# د مکتوباتِ حمزه بابا نفسیاتي مطالعه

## The Psychological Study of Hamza Baba Letters

**Javed Iqbal Iqbal***

**Abstract:**

In this paper the scholar has carried out psychological analysis of the published letters of the great Pashto Poet of 20th Century Hamza khan Shinwari (1907-1994). It is a unique scholarly effort that unveils the psychological dimension of Hamza Baba that will be an opening chapter and preamble for the coming generations of the research scholars.

حمزه بابا د شلمې صدۍ د پښتو د جدید ادب هغه ستر نوم دی چې د علمي او ادبي خدماتو احاطه کول یې نۀ یوازې یو ګران بلکې ناممکن کار هم دی. هغۀ ته که په مجموعي توګه د کلاسیکي او جدید ادب تر مینځه د پُل او د زنځیر د مینځنۍ کړۍ حېثیت حاصل دی نو د دې لوئ حېثیت او اعزاز تر شا د هغۀ د رسا فکر، ژورې مشاهدې، پراخې مطالعې او فطري صلاحیتونو لوئ لاس دی. دې لړ کښې د هغۀ د نثري لیکونو یادَونه هم کېدی شي او د منظومو لیکونو هم. دغه شان د هغۀ د پښتو کتابونو حواله هم ورکېدلی شي او په اردو ژبه کښې لیکلی شوو د هغۀ د قدر وړ کاوشونو ذکر هم کېدلی شي.

په دې موقع مونږ په دې مقاله کښې د حمزه بابا د شخصیت او فکر د خورو ځانګو نه یوازې د یوې ځانګې وضاحت او د هغې تجزیه کول غواړو کومې ته چې نفسیاتي فکر او نفسیاتي روئیې وئیلی شي.

د حمزه بابا د نفسیاتي فکر حوالې هم ګڼ شمېر کښې دي، له هر څۀ اول خو د هغۀ په شاعرۍ کښې ځای په ځای د نفسیاتي روئیو څرګندونه شوې ده. دغه شان د هغۀ په څنو کتابونو لکه "انا اور علم" چې پښتو کښې د انساني انا او پوهه په نوم چاپ شوی دی. "انسان اور زندگی" په پښتو کښې د ژوند په نوم چاپ شوی دی. په خصوصي توګه د نفس او

* Javed Iqbal Iqbal, Lecturer Department of Pashto, Baluchistan University, Quetta.

نفسیاتو بحثونه په نظر راځي. دې نه علاوه د تصوف او وحدت الوجود په موضوع د هغهٔ ځنو کتابونو لکه "وجود او شهود" او "د خوشحال خان ختمک یو شعر" کښې هم د موقعې په مناسبت ځینو نفسیاتي مسئلو ته اشارې شوې دي. خو په دې مقاله کښې د حمزه بابا د نفسیاتي رجحان د جاج دپاره زمونږ بنیادي ماخذ د حمزه بابا مکتوبات دي. البته دلته دا وضاحت هم ضروري دی چې په پښتو لیکونکو کښې حمزه بابا یو داسې لیکونکی او دانشور دی چې تر هر چا زیات خطونه یې لیکلي دي او په دغو خطونو کښې یو شمېر په کتابي شکل کښې چاپ شوي هم دي، دغو چاپ شوو کتابونو کښې د جعفر خان اڅکزي او حمزه بابا دواړو په خطونو مشتمل یو کتاب د "انسان او خدای" په نامه چاپ دی چې موضوع ئې د خدای وجود ده. دا خطونه په کتابي شکل د حمزه بابا د خطونو وړومبۍ مجموعه ده چې ورسره د جعفر خان اڅکزئي خطونه هم شامل دي. په دې کتاب کښې ټول پینځلس خطونه چاپ دي چې اووهٔ خطونه د جعفر خان اڅکزي او اتهٔ د حمزه بابا دي. دې نه علاوه د حمزه بابا خطونه د طاهر اپریدي په نوم، د ډاکټر سید چراغ حسېن شاه په نوم او د همایون هما په نوم په بېلو بېلو کتابونو کښې چاپ شوي دي. د حمزه بابا د خطونو په کتابي شکل کښې د محفوظولو یوه ډېره اهمه او بنیادي کړۍ د ملک عبدالرحمان په نوم لیکل شوي خطونه دي چې د مکتوبات حمزه بابا په نوم په کال 1997ء کښې چاپ شوي دي. دا ټول یو سل ځلور (104) خطونه دي چې په اتهٔ سوه درې پنځوس (853) صفحو مشتمل د یو ضخیم کتاب په شکل د پښتو په مکتوباتي ادب کښې یوه اهمه او قیمتي زیاتونه ده. د حمزه بابا دغه خطونه عام خطونه نهٔ دي بلکې د یو نابغه انسان لیکلي خطونه دي چې د اهمیت نه ئې په هیڅ توګه انکار نهٔ شي کېدی. په دغه خطونو کښې په مختلفو موضوعاتو ډېر عالمانه بحثونه شوي دي، او د مثالونو په ذریعه ئې ډېرې دقیقې نکتې اسانې کړې دي ځکه خو ملک عبدالرحمان دغه خطونه په کتابي شکل کښې خوندي کړل د چاپ نه مخکښې چې ملک عبدالرحمان د دغو مکتوباتو د را غونډولو او چاپ کولو په حقله حمزه

بابا د خپل عزم نه خبر کړو نو په جوابي خط کښې دغه نابغه انسان د خپلې انکسارۍ اظهار په دې ټکو وکړو:

"زما د مکتوباتو را غونډول؟ نېك بخته زما دومره حېثيت چرته دی او زۀ د دې کله قابل يم چې زما د مکتوباتو نه دې چا ته فائده ورسي خدای شته چې زۀ خو داسې ګڼم چې په هيڅ نۀ پوهېږم او دا څۀ چې کله کله درته ليکم دا زما په پخوانۍ حافظه کښې پاتې دي او زما د منزل حاصلات دي دا ټول ما په شعوري ډول محسوس کړي دي خو دا ضروري نۀ ده چې په دې دې د اکثر خلقو تسله کېږي دا جدا خبره ده چې ستا، لاد يو نيم بل انسان دپاره د تسلۍ وړ دي"(1)

ډاکټر قابل خان افرېدي په خپله پي ايچ ډي مقاله کښې د دغو خطونو شمېر 101 ياد کړی دی چې درست نۀ دی. د حمزه بابا د مکتوباتو په دې مجموعه يو څو وضاحتي خبرې د کتاب مؤلف ملك عبدالرحمان ليکلې دي. دغه شان حمزه بابا په خپله يو څو لنډې خبرې ليکلې دي او سيد طاهر بخاري په دوه اتيا (82) صفحو مشتمله يوه تفصيلي مقدمه ليکلې ده چې د حمزه بابا د شخصيت او علمي رجحان وضاحت يې په کښې په ډېره ښه توګه کړی دی.

د حمزه بابا په دې خطونو کښې زيات بحث خو په تصوف وحدت الوجود، د تصوف په مختلفو سلسلو، فلسفه او نورو علمي موضوعاتو شوی دی ځکه چې د خطونو مکتوب اليه ملك عبدالرحمان د حمزه بابا د تصوف د سلسلې مريد پاتې شوی ؤ. خو د دغو بحثونو سره سره چې د دې خطونو يوه بله کومه ډېره اهمه موضوع ده هغه د نفسياتو ده چې حمزه بابا پرې ډېره عالمانه او مدلل انداز کښې تبصره کړې ده.

د حمزه بابا د نفسيات دانۍ يا اروا پوهنې دپاره د يو بنيادي ماخذ په حېث د "مکتوباتِ حمزه بابا" خصوصي يادونه ځکه وشوه چې د يوۀ ليکونکي د نفسياتي روئيو او عواملو معلومولو دپاره د هغۀ ذاتي ليکونه او په خصوصي توګه د هغۀ خطونه د يوې بنيادي او د ټولو نه اهمې حوالې حېثيت لري. د دې دعوې په تائيد کښې د نفسياتي تنقيد د نامور دانشور ډاکټر سليم اختر رائې وړاندې کوم، هغه ليکي:

"خود نوشت سوانح عمریوں کی مانند خطوط بھی نفسیاتی لحاظ سے کار آمد مواد کی حامل ہوسکتے ہیں... خط لکھنے والا، دوست یا کسی ایسی ہستی کو خط لکھ رہا ہے جس سے اسے ایک خاص طرح کا جذباتی تعلق ہے اس کی عدم موجودگی کی بنا پر یہ جذباتی تعلق کچھ زیادہ ہی گہرا ہو جاتا ہے، یوں جب وہ خط کی صورت میں اس سے نصف ملاقات کرتا ہے تو خط کا صفحہ صفحہ نہیں رہتا بلکہ ایک طرح کا آئینہ بن جاتا ہے جس میں وہ الفاظ اور ان سے جنم لینے والی تاثرات کو اپنی تصویر میں بطور رنگ استعمال کرتا ہے. یہ رنگ شوخ بھی ہوسکتے ہیں اور ہلکی بھی، ان میں کسی ایک رنگ کا اثر نمایاں بھی ہو سکتا ہے اور صدر نگی سے یک رنگی بھی پیدا کی جاسکتی ہے یا پھر ان کے برعکس شعوری کوشش سے اخفا کا کام لیتے ہوئے خود کو پردوں میں مسطور بھی کیا جاسکتا ہے، ہر انداز لکھنے والے کی مخصوص نفسیاتی افتاد کا آئینہ دار ہوگا"(2). ے

ډاکټر سليم اختر د "نفسي دريافت" په موضوع هم خپله تجزيه پېش کړې ده او د يو تخليق کار د شخصيت د نفسياتي مطالعې په لړ کښې د خطونو په اهميت هم خپله رائې ورکړې ده چې په دې ډول ده:

"تخلیق کار کی زندگی کی خارجی واقعات کے ساتھ ساتھ خطوط، ڈائریوں خود نوشت سوانح عمریوں، اعترافات او تذاکیر (Memoirs) وغیرہ کے مدد سے اسکی شخصیت اور تخلیقی ذہن کی تشکیل کرنے والی عوامل کے تعین سے زندگی کے اہم نفسی وقوعات اور حوادث کا سراغ لگا کر انکی روشنی میں تخلیقات کا عمومی جائزہ یا مخصوص ادب پاروں کا تجزیاتی مطالعہ کرنا یہ طریقہ بہت مفید اور پہلے طریقے کے مقابلے میں کہیں زیادہ محفوظ اور باوثوق ہے، بیشتر نفسیاتی مطالعات اس طریقہ سے کئے جاتے ہیں، خطوط پر اس لئے زور دیا گیا کہ ان میں بے ساختہ پن کہیں زیادہ ہوتا ہے اسلئے ان کے شخصی ہونے کا امکان قوی تر ہے"(3).

وړومبى خو د حمزه بابا د خپلې رائې په تناظر کښې دا څرګندول ضروري دي چې حمزه بابا د ادب د نورو ګڼو صنفونو او بې حده مصروف علمي او ادبي ژوند باوجود مکتوبات نګارۍ طرفته هم خصوصي توجه کړې ده او د راغلو خطونو جوابي مکتوبات يې يوه اهمه فريضه ګڼلې ده. د هم دغه فريضې او ذمه وارۍ د احساس له مخه د مکتوب نګارۍ په ميدان کښې هم په پښتو ژبه او ادب کښې د هغهٔ سيال پيدا کول ګران کار دى. هغهٔ د خپلې دغه فريضې او ذمه وارۍ د احساس لاندې د خپلو خطونو په حقله وئيلي دي چې:

"زما دوست ملك عبدالرحمان چې د سلوك و تصوف سره ډېر شوق لري، ما ته پرله پسې خطونه ليکل او ما د خپل عادت په مطابق جوابونه ورکول ځکه چې زهٔ هميشه دا کوشش کوم چې د چا ليك جواب پاتې نهٔ

شي او نۀ د چا راغلی خط تلف کول ښۀ ګڼم نو ځکه ما څخه د خطونو یو لوئ انبار موجود دی چې کېدی شي په مستقبل کښې په کار راشي"(4).

حمزه بابا په خپلو بې شمېره خطونو کښې د ملك عبدالرحمان په نوم لیکلی شوو خطونو پس منظر او داخلي محرکات په دې ټکو بیانوي:

"نن چې د مارچ 18 [1974]دی ما د دې لیکونو مطالعه وکړه په خپلو خامیو هم پوه شوم او چې کومې غلطۍ را نه په کښې شوې دي هغه مې هم ځیر کړې، په ځینې ځایونو کښې مې څۀ ایتونه هم صحیح نۀ دي لیکلي چې هغه طاهر بخاري صاحب د اصلاح په زېور ځلولي دي چې زۀ یې ډېر مشکور یم. زما په دې خطونو کښې تکرار هم ډېر دی چې د هغې بنیادي وجه زما د حافظې کمزوري ده او بیا دا هم ده چې زۀ د هر لیك خصوصاً د خطونو جوابونه سمدستي ورکوم، ان تر دې چې ځینې مذهبي نور مضمونونه هم بغیر د کوم کتاب د مدد نه صرف د خپلې حافظې په مرسته لیکم، خو اوس زما د حافظې هغه حال چرته دی کوم چې په ځوانۍ کښې ؤ"(5).

د حمزه بابا د دغو مکتوباتو د مجموعي پېژندګلو نه پس اوس راځو خپلې موضوع ته او ګورو چې په دې مکتوباتو کښې د حمزه بابا د نفسیاتي روئیو کومې زاوئې را مخې ته کېږي او په مجموعي توګه حمزه بابا د نفسیاتي رجحاناتو جائزۀ څنګه اخلي.

د نفسیاتو بنیادي موضوع د انسان د داخل مطالعه او مشاهده ده ځکه خو د نفسیاتو یعني (Psychology) تعریف د ذهني مطالعې ( Study of Mind) په توګه کولی شي، البته دا هم څرګندول ضروري دي چې کله مونږ د لفظ سائیکالوجي په بنیاد د نفسیاتو تعریف کوو نو په دغه تعریف کښې د "روح" په حقله معلومات هم شاملېږي، ځکه چې د سائیکالوجي (Psychology) په لفظ کښې د (Psyche) سایکي توری د روح د مفهوم د پاره راځي، د نفس، نفسیاتو، سائیکي او سائیکالوجي د تورو وضاحت دپاره د ډاکټر سلیم اختر د کتاب نه یو اقتباس وړاندې کول ضروري ګڼم:

''نفسیات جس انگریزی لفظ Psychology کا ترجمہ ہے وہ دو یونانی الفاظ Psyche (روح) اور Logos (لفظ) کا مرکب ہے... الغرض Psychology کے یہ دونوں الفاظ اپنی ایک جداگانہ داستان سنانے کے ساتھ ساتھ انسانی زندگی

*کے اساسی تقاضوں کیلئے بلیغ استعاروں کی حیثیت بھی اختیار کی جاتی ہیں اردو میں نفسیات سے علم النفس کی اصطلاح مروج رہی ہے... سائیکالوجی کو افغانستان میں روحیات کہتے ہیں وہ کہتے ہیں کہ سائیکی کا مطلب روح ہے اس لئے سائیکالوجی کا ترجمہ روحیات ہی ہو سکتا ہے جب میں وہاں گیا تو میں نے نفسیات کا ذکر کیا وہ حیران رہ گئے کہ یہ کونسا علم ہے میں سمجھتا ہوں کہ ہم نے سائیکالوجی کا ترجمہ جو نفسیات کیا ہے تو غالباً یہ مغرب ہی کی تحت"(6).*

د دغه ټولو تورو وضاحت نه یوه خبره جوتیږي چې د نفسیاتو بنیادي موضوع انسان او په خصوصي توګه د انسان د داخلي نظام یعني سوچ، فکر او داخلي عواملو مطالعه او مشاهده ده، د دغه مطالعې او مشاهدې په بنیاد د انسان د داخلي محرکاتو د تربیت او سمونې نوم انسانیت دی چې د نفسیاتو بنیادي موضوع ده، د حمزه بابا د بحث لاندې مکتوباتو بنیادي موضوع هم د بناغلي طاهر بخاري په الفاظو هم دغه د انساني محرکاتو مطالعه، مشاهده او بیا د انسان د داخل تربیت او تزکیه ده چې په کښې د انساني شعور، لاشعور، حافظې، ضمیر، انا او خودی، تخیل او تفکر وغیره بحثونه هم شامليږي. وړومبی د طاهر بخاري هغه الفاظ وړاندې کول ضروري ګڼم کوم چې د مکتوباتِ حمزه بابا بنیادي موضوع رامخې ته کوي. طاهر بخاري صاحب د مکتوباتِ حمزه بابا په مقدمه کښې لیکي:

"په دې خطونو کښې د ټولو نه اهم څيز انساني تربیت دی او زمونږ اکثرو دوستانو ته به معلومه وي چې بابا عمومي طور د هرڅهٔ په تربیت او خصوصاً د بنیادمو په تربیت ډېر زور ورکړی دی. ستر بابا د بنیادمو یوه داسې معاشره قائمول او لیدل غواړي، په کومه کښې چې انسان خو انسان دی چې ډنګر په کښې هم تربیت یافته وي او په دغه وجه ستر بابا خپل ټول قوتونه د هغې راتلونکی، صحیح، قوي او فطري انساني استوګنې د قیام دپاره وقف کړی دی. د کومې په حقله چې کله کله شعوري یا لاشعوري طور د هر انساني ضمیر یا فطرت له خوا یو تت یا برڅېره غوندې اواز بهر راوځي."(7)

وړاندې چې د مکتوباتِ حمزه بابا په حواله د نفسیاتو د کومو اړخونو یادونه وشوه، دلته ئې د مکتوباتِ حمزه بابا په حواله جائزهٔ اخلو، په دغه جائزهٔ کښې وړومبی د نفس او نَفسیات په حقله د حمزه بابا د نظریاتو یادونه کوو:

## نفس او نفسيات:

د نفسياتو د علم بنياد نفس دی، د نفسيات مطلب هم د نفس علم دی نفس د عربۍ ژبې توری دی چې د افاق دپاره استعمالولی شي. قران مجيد د انفس او افاق توري د داخل او خارج په معنو کښې استعمال کړی دی. موږ د انګرېزۍ په اصطلاحاتو کښې دې ته **Subjectivity** او **Objectivity** وئيلی شو. مطلب ئې دا شو چې د انسان د چاپېرچل بهرنۍ يعني خارجه مطالعه به د افاق يا **Objectivity** په معنو کښې استعمالولی شي او د انسان د داخلي نظام مطالعه يعني **Study of mind** به د انفس يا **Subjectivity** په معنو کښې استعماليږي هم دغه انفس، داخلي نظام، **Study of mind**، **Subjectivity**، او **Objectivity** ته د نفس مطالعه وئيلی شي چې په بنيادي توګه د نفسياتو د علم بنيادي موضوع ده. ځکه موږ ګورو چې حمزه بابا په خپلو خطونو کښې د نفس په حقله څۀ وائي او د نفسياتي روئيو څرګندونه څنګه کوي.

قران کريم کښې د نفس درو درجو نفس اماره، نفس لوامه او نفس مطمئنه ذکر په مختلفو ايتونو کښې شوی دی، په نهمه ويشتمه سيپاره کښې د نفس لوامه ذکر داسې شوی دی:

⮱▪⬂▦☐☪ ⌇⌾ ೬∽ ೬∽ ⍉ 📪 ⇖☠⮰○⬂🔔🡅📖 ✋⬩◆❐
(8) ⮴✗⮳ ⌘☐⧫👌✂▪❑✵🖫⌇⌾ ೬∽ ✂

ترجمه: او زما دې قسم وي په نفس لوامه سره.

د ذکر شوي ايت مفهوم او تفسير مولانا اشرف علي تهانوي په دې ټکو بيانوي:

"اگر انسان کا نفس لہو لعب کھیل کود کی جانب مائل ہو اور نہ نیک کام پر اس کا جی لگے تو ایسی نفس کو نفس امارہ بالسوء کہتے ہیں اگر نیک و بد اور حسن و قبح کا احساس کریں کبھی کبھی برائی کا مرتکب ہو بیٹھی لیکن فوراً ہی تنبیہ ہو کر اپنی خطا کا معترف ہو اور صدور عصیان پر اپنی آپ کو ملامت کریں اس نفس کا نام نفس لوامہ ہے، اگر نیکی کا شائق، بدی سے بیزار ہو، عبادت اور ریاضت پر مائل، صبر و تحمل کا خوگر اور حسن اخلاق کا گرویدہ ہو تو ایسی پاک نفس کا نام نفسِ مطمئنہ ہے"(9).

د مولانا اشرف علي تهانوي صاحب د پورتنۍ حوالې نه واضحه شوه چې نفس اماره انسان د غلطيو او منکراتو په لور بيايي. نفس لوامه د منکراتو نه اوچته درجه ده چې انساني داخل په کښې د غلطيو نه ځان

ساتي او نفس مطمئینه د انسان د داخلي رجحان د ټولو نه اعلی درجه ده چې د انساني نفس د اطمینان درجه هم ورته وئیلی شو. حمزه بابا په خپلو خطونو کښې د نفس د دغو درې واړو درجو ذکر او وضاحت هم کړې دی او بیا د هم دغو درو درجو وضاحت په موقع ئې د نورو درو ضمني درجو څرګندونه هم کړې ده. حمزه بابا د نفس نورې درې ضمني درجې د همدغو غټو دریو درجو په ضمن کښې بیانوي. حمزه بابا د خپلې تصوفي سلسلې په لړ کښې د سالکانو د بیعت نۀ کول د نفس اماره نغوته ګڼي او دغسې که مونږ د تصوفي سلسلې نه بالاتر فکر وکړو نو د هرې بدۍ طرف ته مائل کېدل او د نېکۍ نه ځان ژغورل هم د نفس اماره نغوته وي چې مونږ ورته په عامه اصطلاح کښې د شیطان لمسه وئیلی شو، حمزه بابا د 10 اکتوبر 1970ء په یو خط کښې د نفس اماره یادونه د تصوف په ضمن کښې په دې ټکو کوي:

"اماره نفس په ابتدا کښې ډېر غالب وي، ځکه نو عقل یې هم تابع وي او د هغۀ د خواهش دپاره علمي دلائیل هم جوړوي، مثلاً دا چې پیر خو قران حکیم دی. دا کافي دی او دا خیال نۀ کوي چې په دې موجوده وخت کښې چې زۀ دا دلیل بیانوم چې "پیر قرانِ حکیم دی" نو ما تر کومه حده د قران حکیم پېروي کړې ده او د کومو کومو ګناهونو نه مې ځان ژغورلی دی. او دا خیال نۀ کوي چې د نړۍ عظیم او سپېڅلي خلق د بیعت کولو نۀ صرف قائل وو بلکې بیعتونه یې کړي هم وو او نورو ته یې هم بیعتونه ورکول. بلکې غوث پاك شهاب الدین سهروردي، خواجه معین الدین چشتي او په اخر کښې حضرت مجدد نو د دې قسمه بهانې جوړوونکي همېشه دپاره د اماره نفس او شیطان په قبضه کښې وي"(10).

د نفس لوامه د وضاحت په موقع حمزه بابا خپل مکتوب الیه ته وائي چې تۀ که په خپلو ګناهونو د پښېمانۍ احساس کوې نو ګویا دا د نفس لوامه اثر دی او هرکله چې د نفس لوامه قوت کمزوری شي نو انساني نفس د لوامه نه د اماره په لور سفر کوي ځکه چې نفس لوامه انسان ته د ګناه احساس ورکوي او اماره نفس یې ګناه سره مخ کوي. حمزه بابا دې لړ کښې د 3 اګست 1970ء په یو خط کښې لیکي:

"د ګناه د ارتکاب سره چې په انساني ضمير کوم ردِ عمل څرګندېږي د هغۀ نه هر انسان اندازه کولی شي چې د هغۀ نفسِ لوامه تر کومه حده قوي دی. خو مرشدان بيا هغه سالك د خپلې اندازې نه زيات هغو ګناهونو ته نۀ پرېږدي ځکه چې ګناه مسلمه شي نو نفس اماره بيا غلبه وکړي او لوامه کمزوری شي... او ستا د ليك په موجب چې تۀ په تېرو ګناهونو ډېره پښېماني محسوسوې مبارکه خبره ده. د نفس لوامه اثر دی. بايد چې دا څومره قوي کېږي اماره به هومره کمزورې کېږي. خو چې چرته په خپل اختيار د لوامې طاقت معلومولو دپاره د ګناه اقدام و نۀ کړې"(11).

په وړاندې ذکر شوي خط کښې د نفس لوامه سره سره د نفس اماره په حقله هم خبره شوې ده دغسې حمزه بابا د نفس مطمئنه په حقله د 3 اګست 1970ء په يو خط کښې د رحمان بابا د يو شعر په حواله خبره کوي او ورسره د نفس اماره حمله د شيطاني د وسوسو نتيجه ښايي، ليکي:

"علت لاړ شي عادت نۀ ځي د سړي نه
خداى دې نۀ کاندې په بدو چار عادت څوك

د دې نه معلومه شوه چې انسان د قيد نه خلاصېدی نۀ شي په يو نه يو عادت کښې ګېر وي خو په کار دا دی چې کوم عادت پرې ډېر غالب شي د هغۀ ماتول په کار دي او په خصوص سره د هغه عادت ماتول چې نفس ورسره محبت را واخلي. او که نفس پرې تنګ ؤ نو هغه عادت ښۀ وي، د مونځ، روژې عادت داسې دی چې څۀ هم د نفس خوښ نۀ دی خو چې مسلسل شي نو بيا هم دغه نفس په کراهت کښې هم پرې خوښ وي ان تر دې چې نفس مطمئنه شوی نۀ وي. د اطاعت د هر کار نه مخالف وي او د موقعې په انتظار وي چې موقع يې برابره شي انسان سر د لاندې را پرې باسي. بائد چې هر انسان د خپل رجحان کمزوري اړخونه ځير کړي او همېشه يې په نظر کښې وساتي ځکه چې نفس او شيطان هم په هغو کمزورو اړخونو حمله کوي"(12).

حمزه بابا په خپلو مکتوباتو کښې د نفسياتو په مختلفو اصطلاحاتو بحث کړی دی خو دلته دا وئيل به هم بې ځايه نۀ وي چې هغۀ د خپلو تصوفي رجحاناتو له وجې ځنو ځايونو کښې په مغربي عالمانو

تنقیدونه هم کړي دي چې دلته پرې د بحث ګنجائش نشته البته دې لړ کښې یوه حواله د نمونې په توګه پېش کوم:

"مغربي پوهانو چې د نفسیاتو کوم علم دنیا ته ښودلی دی هغه د صوفیاؤ د نفسیاتي پوهې په مقابله کښې یوه ذره هم نهٔ دی په تصوف کښې چې د نفسیاتو کوم علم راځي دا مادیتین د هغه تصور هم نهٔ شي کولی"(13).

## روح او جبلت:

حمزه بابا په خپلو خطونو کښې د روح او جبلت په حقله هم خپل نظر وړاندې کړی دی د مکتوبات حمزه بابا د دغه اړخ د تجزئې نه وړومبی د روح او جبلت په حقله هم څهٔ وئیل ضروري ګڼم. د روح په حقله خو ګڼ شمېر او متضاد نظریات مخې ته راځي خو په عمومي معنو کښې چې د ژوند (Life) بنیاد په کوم طاقت او صلاحیت ولاړ دی هغې ته روح وئیلی شي چې حمزه بابا ورته انساني ذات یا انساني انا هم وائي. د جبلت په حقله په اسانو ټکو کښې دا وئیلی کېدی شي چې د ژوندو ځیزونو هغه مزاج او طبعیت چې نهٔ په خپله زیاتیږي او نهٔ کمیږي او نهٔ ئې په خپله خوښه څوك بدلولی شي دا بېخي فطري وي اکتسابي نهٔ وي یعنې د زده کړې او ریاضت په نتیجه کښې په وجود کښې نهٔ راځي. نو دغه ځیز ته جبلت وئیلی کېدی شي. په دې بنیاد د هر ژوندي ځیز، انسان، ځناور او نورو ژوندو ځیزونو خپل خپل جبلت وي چې د ځان سره ئې د ازل نه د خپل تخلیق مطابق راوړی وي.

حمزه بابا د 27 دسمبر 1972ء په مکتوب کښې د فطرت او جبلت په حقله لیکي:

"ستا په موروثي اخلاقو کښې چې کومه تبدیلي راغلې ده او تهٔ ئې محسوس کوې نو دا خیال مه کوه چې ګوندې ستا هغه اخلاق به موروثي یا فطرتي وو، بې شکه حق تعالیٰ فطري رجحانات هم تبدیل کولی شي خو دا کار ډېر شاذ او نادر وي د خاص خاص موقعو دپاره وي او موروثي خویونه هم فطرتي رنګ اختیار کړي خو تبدیلي ئې ناممکنه نهٔ وي البته

هغــه فطـري اوصــاف نــۀ بــدليږي پــه کومــو چــې د يــو انســان تخليــق شــوی دی"(14).

حمـزه بابـا پـه دغـه مکتـوب کښـې د فطـرت او جبلـت باريـك فـرق واضـح کـړی دی پـه اصـل کښـې جبلـت هـم فطـري څيـز دی چـې يـو انسـان پـه خپلـه خوښـه پـه کښـې بـدلون نـۀ شـي راوسـتی، البتـه د ډېـر زيـات رياضـت نـه پـس انسـان خپـل فطـرت کښـې بـدلون راوسـتلی شـي. لکـه چـې وړانـدې وئيلـی شـوي دي چـې د نفسـياتو دپـاره د "ارواح پـوهنې" اصـطلاح هـم پـه کـارولی شـي چـې مطلـب يـې د روح مطالعـه ده. دغـه روح تـه حمـزه بابـا "انسـاني انـا" هـم وائـي او ځـای پـه ځـای خپلـو ليکونـو کښـې پرې بحث هـم کـوي. حمـزه بابـا د انسـاني روح پـه حقلـه قرانـي تعليمـات هـم پـه نظـر کښـې سـاتي او بيـا د انسـاني روح او حيـواني روح تـر مينځـه فـرق هـم ښـائي هغــه د 29 اپرېـل 1971ء په يو مکتوب کښې ليکي:

"اطمينــان پــه يــوه معنــا کښــې د مــرګ او جمــود نــه عبــارت دی خــو د مخکښــې منــزل دپــاره د اطمينــان وجــود ضــروري دی. څــوك چــې د شــپې ښــۀ خـوب و نـۀ کـړي هغـه سـحر تـازۀ دم نـۀ پـاځي. او د ورځـې د کـارونو دپـاره تيـار نـۀ وي. زمـا پـه عقيـده جنـت هـم د يـو داسـې اطمينـان حالـت دی چـې تـر څـۀ وختــه د منــزل کلفتونــه هېــر کــړي او بيــا مخکښــې روان شــي. ځکــه چــې انســاني روح چــې تــر څــو خپــل رب اســم تــه نــۀ وي رســېدلی تــر هغــې نــۀ مطمئـين کېـږي او هيچـرې پـه يـو مقـام نـۀ شـي پـاتې کېـدی. قـران حکـيم چـې وائـي: "قـل الـروح مـن امـر ربـی" نـو ځنـې څـۀ چـې اکثـر علمـائې پـه تفسـير کښـې "خلـق مـن امـر ربـی" ښـيي. او کـه د دې معنـو لحـاظ وسـاتلی شـي نـو روح خو څۀ کوې هر څيز خلق من امر ربی ثابتيږي"(15).

د 7 مـــئ 1971ء پـــه يـــو مکتـــوب کښـــې د انســـاني روح او حيـــواني جبلت په حقله وائي:

د غـم دړد چپـه چـې تـر څـو دا مـادي جسـم ژونـدی وي ارو مـرو راځـي خـو چـې چـا تـه اسـتقامت حاصـل وي هغـه بـې کـوره کېـږي نـه، او د دې نـه عـلاوه هـم ډېـر څـۀ راځـي. ځکـه چـې پـه انسـاني وجـود کښـې دوه مشـهور او ضـابط طاقتونـــه دي چـــې شـــهواني او غضـــباني ورتـــه وائـــي، نـــو د دې دواړو

متعلقات ارو مرو وخت په وخت څرګندیږي او د استقامت خاوند یې مناسبه تجزیه کوي او د هر طاقت غوښتنه سنجوي او بیا یې د پوره کولو او نۀ پوره کولو فیصله کوي. ځکه چې انسان او حیوان کښې هم دغه فرق دی چې حیوان د فطري غوښتنو یو حرکت ته هم د ضابطې غړوندی نۀ شي اچولی. د خپل جبلت په اشاره کار کوي. لېکن انسان ته حق تعالیٰ داسې یو غیر فطري جوهر (روحِ انساني) ورکړی دی چې هغه فطري او جبلي تقاضې د ضابطې لاندې نیسي او د بې مهاره اوښ غوندې یې ازادۍ ته نۀ پرېږدي"(16).

د 19 جون 1971ء په یو مکتوب کښې حمزه بابا نۀ یواځې د انساني روح او حیواني جبلت خبره کړې ده، بلکې د روح او مادې امتیاز ئې هم په ګوته کړی دی او بیا د انساني ذات د سوچ او فکر په حواله ئې د انساني انا وضاحت سره د انسانیت او ملکیت کیفیتونه هم څرګند کړي دي. هغه دې لړ کښې لیکي:

"د فنا مقصد دا دی چې انساني روح د مادي غلبې نه ازاد شي او د ازادۍ نه پس د حق تعالیٰ د محبت دپاره اوزګار شي. د هغۀ د روح د ائینې نه د مادیت رنګ لرې شي او ائینه ئې د عکسونو د اخستو دپاره صفا شي. روح یې د هر ډول فعالیت دپاره ازاد شي. او د فعالیت په وخت حیواني عنصر د هغه په کار کښې نۀ خارج کېږي. فنا هم دغه ده او د دې نه علاوه چې کومه فنا ده هغه سروپ لېوتتوب دی... د فنا نه مراد د حیواني مستۍ فنا کول دي. ځکه چې همدغه حیوانیت د "انا" خپل غړ نۀ شي پورته کولی، فنا د هغه عنصر دپاره ضروري ده کوم چې د حق او سالك تر مینځه پرده او بېلتون پیدا کوي. او هغه یوازې حیواني عنصر دی. انساني او ملکي عناصر د حق او سالك تر مینځه حجاب نۀ دی بلکې ملکیت د انسانیت مرستیال دی او حق ته د رسېدو په منزل کښې ورسره مدد کوي"(17).

د حمزه بابا د دغو خطونو د حوالو نه د هغۀ د نفسیاتي کېفیاتو سره سره د نفس، نفسیاتو، روح، روحانیت، انا، انانیت، ملکیت او حیوانیت تصورات هم زمونږ مخې ته راغلل او په دې نتیجه ورسېدو چې

حمزه بابا په خپلو مکتوباتو کښې څومره په اسانه ژبه د نفس او نفسیاتو تصور واضح کړی دی.

## شعور او لاشعور:

د شعور او لاشعور بحث د نفسیاتو عالمانو نۀ یوائې خور کړی دی بلکې مبهم کړی ئې هم دی خو مونږ به د خلاصې په توګه ووایو چې شعور د حواسو په مرسته د مشاهدې او معلوماتو هغه خزانې ته وئیلی شي چې د ضرورت په وخت ئې په عام ژوند کښې په مختلفو موقعو استعمال کولی شي. د هم دغه شعوري خزانې د معلوماتو یوه برخه د شعوري خزانې نه لاشعوري خزانې ته ځي او بیا په داسې وخت کښې سر ښکاره کوي چې شعوري صلاحیت خاموش وي. هم دغه وجه ده چې د شعوري صلاحیت د خاموشۍ په وجه لاشعوري خزانې نه معلومات په غیر منظم او ګډوډ شکل کښې خپل نمود کوي او هغه څۀ هم سر ښکاره کړي چې په شعوري دنیا کښې نۀ ښکاره کېږي. په دې بنیاد مونږ شعوري دنیا ته د لاشعوري دنیا څوکیدار هم وئیلی شو او د لاشعور د ښار دروازۀ هم. ځکه چې لاشعوري دنیا ته معلومات د شعور په دروازۀ ورننوځي او د لاشعوري دنیا معلومات هم په هغه وخت راوځي کله چې د شعوري دنیا څوکیدار خپله وظیفه نۀ ترسره کوي.

د شعور او لاشعور سره د تحت الشعور او فوق الشعور اصطلاحات هم مخې ته راځي چې د نفسیاتو ډېر اهم او بنیادي اصطلاحات دي، په نفسیاتو کښې دغو اصطلاحاتو په نامورو شارحینو کښې د ټولو نه وړومبی د فرائډ نوم اخستلی شي. دغسې د اډلر او ژونګ نومونه هم مخې ته راځي حمزه بابا هم په پښتو دانشورو کښې د نفسیاتو په دغه اهمو اصطلاحاتو بحث کړی دی.

د شعور او لاشعور په حقله د حمزه بابا نفسیاتي فکر باندې بحث کولو نه وړاندې د دغو اصطلاحاتو د نور وضاحت دپاره د کرامت حسین د کتاب نه یو اقتباس وړاندې کوم هغه لیکي:

"در حقیقت ہمارا ذہن معمولی شعور پر ہی مشتمل نہیں ہوتا بلکہ اس سے بہت زیادہ وسیع ہوتا ہے... تحت الشعوری اعمال شعور سے ذرا نیچے جاری و ساری رہتے ہیں لیکن وہ شعوری بھی ہوسکتے ہیں... بعض اوقات دوران گفتگو ہم کوئی نام بھول جاتے ہیں اور تمام کوشش کے باوجود اسے اپنے شعور میں نہیں لاسکتے ہم اپنی گفتگو جاری رکھتے ہیں اور کہتے ہیں ٹھہرو وہ نام ابھی یاد آجائیگا اور چند لمحوں کے بعد وہی نام جو یاد نہ آتا تھا خود بخود ہمارے شعور میں آجاتا ہے یہ دراصل اس دوران ہمارے تحت الشعور میں تھا، لاشعوری اعمال وہ اعمال ہیں جن سے ہمیں کوئی آگہی نہیں ہوتی اور جو تحلیل نفسی کے بغیر شعور کی دائرے میں نہیں لائی جاسکتے یہ اعمال ہمارے ذہن میں مدفون ہوتے ہیں، ان کے متعلق ہمیں قطعاً کوئی علم نہیں ہوتا ورنہ وہ لاشعوری نہ کہلاتے، موجودہ ماہرین تحلیل نفسی ان کے مطالعے اور تحلیل نفسی کے ذرائع سے ان کا کھوج لگانے میں مصروف ہیں، لاشعور کا یقین ہمیں فرائڈ نے دلایا ہے، ذہن کے اس نئے سرزمین کی تلاش سے اس نے ہمیں ذہن کے بیشتر وسعتوں سے آگاہ کردیا ہے۔"(18).

حمزه بابا هم د شعور او لاشعور په حقله هم دغه نظر لري او د ستمبر 1971ء په يو خط کښې ليکي:

"څوك چې د نفسياتو د علم سره تعلق لري هغوئ پوهيږي چې د انسان هر عمل په تحت الشعور کښې جمع کيږي او چې د کومو نقوشو کثرت شي انسان مجبوراً هغه رنګ اخلي"(19).

حمزه بابا د اتم مارچ 1970ء په يو خط کښې د شعور، تحت الشعور او لاشعور سره نسبت لرونکو څنو نفسياتي اصطلاحاتو يعنې حافظه، نسيان، وضاحت د خپلې تصوفي سلسلې په لړ کښې داسې کوي:

"د مجدد صاحب فنا دا ده چې انسان ته د دنيا نه مکمل نسيان حاصل شي چې که په تکلف سره ئې را يادول وغواړي نو هم ورته ياد نۀ شي خو تۀ فکر وکړه چې په دې جمله کښې څومره نفسياتي غلطي ده، ګوره کنه څوك چې يو څيز په زور او تکلف را يادوي نو معلومه شوه چې په حافظه کښې موجود وي ګنې د يو څيز را يادول څۀ معنا لري؟ د دې مثال داسې دی لکه چې د يو سړي نوم درنه هېر شي په زړۀ درځي او په خولۀ نۀ درځي خو د هغه سړي صورت نۀ وي محو صرف نوم ئې هېر شوی وي"(20).

د حمزه بابا په پورتني اقتباس کښې چې د حافظې په حقله کومه خبره شوې ده دا په اصل کښې د فرائيډ دريافت کړي لاشعور او تحت الشعور ته اشاره ده دې نه مونږ دا اندازه لګولی شو چې حمزه بابا نۀ

يـواځې د نفسـياتو غرقـه مطالعـه کـړې ده بلکـې خپـل تصـوفي او روحـاني افکار هم د نفسياتي اصطلاحاتو په مرسته واضح کولو باندې قادر دی.

د حمـزه بابـا د دغـې رائـې تفصـيل او د مثـالونو سـره وضـاحت مـونږ تـه د هغـهٔ پـه خطونـو کښـې پـه نظر راتلـی شـي چـې پـه مختلفـو موقعـو ئـې پـرې بحث کـړی دی او مـونږ تـرې دلتـه اسـتفاده کـوو چـې پـه واضـحه توګـه پـه دې لـړ کښـې د حمـزه بابـا رائـې رامخـې تـه شـي. حمـزه بابـا د شـعور او لاشـعور بحـث د روح او مـادې د نسـبت او تعلـق پـه بنيـاد کـوي او خپلـو تصـوفی رجحانـاتو سـره ئـې رشـته جـوړوي. پـه دې بحـث کښـې هغـه د فـوق الشـعور اصطلاح هم استعمالوي. د 27 جولائی 1971ء په يو خط کښې وائي:

"هغـه چـې وائـي چـې شـرط دا چـې څـوك د دې شـعور پـه معطـل کولـو او د لاشـعور پـه بېـدارولو بانـدې کاميـاب شـي. نـو سـوال دا دی چـې کـوم انسـان خپـل شـعور (فـوق الشـعور) د دې دپـاره معطـل کـول غـوره وګڼـي چـې لاشـعور ئـې ازاد شـي. نـو دا کوشـش څـوك کـوي؟ روح کـه بـل څيـز؟ يقينـاً چـې روح يې کـوي، ولـې ئـې کـوي؟ ځکـه چـې هغـه پـه مـاده (فـوق الشـعور) کښـې قيـدي دی. او چـې د دې مـادي قيـد نـه ازاد شـي نـو هلـه بـه ورتـه کلـي علـم حاصـل شـي. يـا دا چـې کلـي علـم خـو ورتـه حاصـل دی خـو د مـادي پرتـو پـه وجـه تـرې پټ شـوی دی نـو بيـا ورتـه ظـاهر شـي خـو پـه دې نـهٔ پـوهيږې چـې کـوم څيـز تـه چـې کلـي علـم ورکـړی شـوی هغـه پـه مـادي قيـد کښـې څرنګـه پرېوتـو. او د مـادې دا طاقـت چرتـه ؤ چـې پـه هغـه غالبـه شـي؟ او بيـا عجيبـه دا چـې د دې قېـد نـه د خلاصـېدو علـم هـم پـه خپلـه ورتـه نـهٔ دی معلـوم د بـل (مرشـد) نـهٔ ئـې زده کـوي او دغـه شـان هغـه بـل د بـل نـه او بـل د بـل نـه زده کـړی دی چـې ان سلسله ئې حقيقت محمديه ته ورسي"(21).

په هم دغه خط کښې نور تفصيلات بيانوي او وائي:

"د شـعور او لاشـعور بحـث چـې د نفسـياتو سـره تعلـق لـري. زمـا پـه کتـاب "انسـان اور زنـدگی" کښـې شـته... زمـا پـه خيـال د شـعور درې مراتـب دي. فـوق الشـعور، تحـت الشـعور، لاشـعور او د انسـان حقيقـي شخصـيت د لاشـعور سـره تعلـق لـري چـې دا ډېـر اوږد بحـث دی. د لاشـعور اډانـه د انسـان پـه رب اسـم ولاړه ده. بيـا چـې پـه پېـړو پېـړو ورسـره د هغـهٔ پلرونـو نيکونـو

اعمال افعال او خیالات په موروثي طور ګډ شوی دی. هغه ئې هم دوېم فطرت ګرځېدلی دی. چې هم د دغو نه د هغهٔ د رب اسم انوار مکمل نهٔ شي څرګندېدی او د دې نه علاوه چې بې شماره اضافات ورسره ګډ دي هغه هم پرې موثر وي. نو ځکه صوفیاء وائي چې: التوحید ترک الاضافات"(22).

دغه شان د یو ملحد په لاشعور کښې د الست بربکم اواز موجودګي ښائي او د لاشعور وضاحت کوي په همدغه ذکر شوي خط کښې وائي:

"هیڅ شك نشته چې کله کله یو سخت ملحد ته هم دا خیال ورځي چې حق تعالیٰ موجود دی نو دا هم په دې وجه وي چې هغه د الست بربکم غږ اورېدلی وي او هغه ئې په لاشعور کښې موجود وي نو ځکه د حق تعالیٰ د وجود نه انکار هیڅ امکان نهٔ لري. او څوك چې انکار کوي هغه هم د یو قسم اقرار وي ځکه چې انکار هم د یو څیز نه کېږي. مثلاً که یو سړی ووائي چې زهٔ ملك عبدالرحمان نهٔ منم. نو اول ئې د ملك عبدالرحمان وجود ثابت کړو او بیا ئې ترې انکار وکړو، ځکه په نفسیاتی ډول ملحدان د کم عقلۍ او ناپوهۍ انتهائي درجې ته رسېدلي دي. او هم دا وجه ده چې د هغوئ نفسیاتي اطمینان ورك وي. او هم په دې وجه یې په ژوند کښې څهٔ خاص اصول هم نهٔ وي"(23).

د 5 مارچ 1971ء په یو خط کښې د انساني نفسیاتو د تحت الشعور د درجې څرګندونه په دې ټکو کوي:

"نن راته خپل پخواني شعرونه را یادېږي، انساني تحت الشعور هم عجیبه خزانه ده کله کله داسې څېزونه را برڅېره کړي چې زما نه بېخي هېر شوي دي خو په یوه سلسله پورې را یاد شي او هم د دې سلسلې په پوهېدو سره انسان د کشف په حقیقت هم پوهېدی شي"(24).

حمزه بابا د شعور، لاشعور سره سره په خپلو ګڼو مکتوباتو کښې ځنو نورو نفسیاتي اصلاحاتو لکه توجه، اراده، تصورات او جزبې وغېره په حقله هم بحث کړی دی. د 16 مارچ 1972ء په یو مکتوب کښې د دغو نفسیاتي اصطلاحاتو په حقله لیکي:

"د توجه په حقله به دومره ووایم چې که فکر وکړی تصور شیخ هم د توجه یو قسم دی او په دې وخت کښې چې ستا کوم خیالات دي هغه د شیخ په برزخ پرتو غورزوي نو هم دغه شان تصور چې د هر چا وکړی شي او خپل خیالات د ارادې په قوت د هغه برزخ نه منتقل کړي هم هغه اثر به پیدا کړي کوم چې د توجه خاوند غواړي خو فرق دا دی چې د توجه کولو په وخت د سالك خیالات پرېشان نهٔ وي په سکون کښې وي او د چا تصور په ښهٔ شان جوړولی شي ځکه چې که د سالك خپل خیالات پرېشان وي نو د فکر وحدت ورته حاصل نهٔ وي نو په داسې وخت کښې نهٔ خو د بل تصور ښهٔ جوړولی شي او نهٔ د خپل مقصد سره سم خپل خیالات ور منتقل کولی شي چې تصور یې جوړ کړي د خپلو خیالاتو د پرېشانۍ په وجه بیا ترې اوتښتي او هم دغه شان دم دعا هم د سکون په حالت کښې اثر کوي که د توجه په وخت تهٔ په خپل ځان کښې د محبت جذبه را ویښه نهٔ کړې نو بل ته هم محبت نهٔ شې ور منتقل کولی او دغسې د هرې جذبې دا حال دی"(25).

حمزه بابا چې د نفسیاتي اصطلاح توجه په حقله کوم بحث کړی دی او کوم مثالونه ئې ورکړي دي د هغې تجزیه او وضاحت که مونږ وکړو نو هغه داسې کېدی شي چې د شعور په چوکاټ کښې عموماً ګڼ شمېر تصویرونه په یو وخت سر ښکاره کوي خو د کثرت او د توجه د عدم موجودګۍ له وجې دغه تصویرونه غېر واضح او تت وي. د شعور په چوکاټ کښې هر غېر واضح او تت تصویر صرف او صرف د توجه په مرسته واضح شکل اختیارولی شي. د نفسیاتو عالمانو دې دپاره د ارادي توجه اصطلاح غوره کړې ده او حمزه بابا په ذکر شوي خط کښې د نورو اصطلاحاتو سره سره په دې اصطلاح هم رڼا غورزولې ده کومه چې د هغهٔ په نفسیات دانۍ دلالت کوي.

## خوبونه:

د انسان خوب لیدل هم یو نفسیاتي کیفیت دی چې د شعوري او لاشعوري عمل په نتیجه کښې را وړاندې کېږي او حمزه بابا ئې نفسیاتي

تعبيرونـه او توجيحـات پـېش کـړي دي. د خوبونـو د توجيهـاتو، محرکـاتو او تعبيراتـو پـه حقلـه د حمـزه بابـا د نفسـياتي پـوهې دپـاره د هغـوئ د مکتوبـاتو نـه يـو څـو مثالونـه وړانـدې کـوم. حمـزه بابـا د 6 اکتـوبر 1970ء پـه يـو مکتـوب کښـې د خوبونـو پـه حقلـه خپلـه تجزيـه پـېش کولـو نـه وړانـدې د حـــواس (Sensations) حـــافظې (Memory) فکـــر (Thinking) او توهم وغېره نفسياتي اصطلاحات د بحث لاندې راولي او ليکي:

"د انسـان حقيقـي او بنيـادي حـواس عقلـي دي چـې بېخـي مجـرد دي هـم دغـه عقلـي حـواس د کائينـات د علـم حاصـلولو يـا مفصـل کولـو دپـاره چـې عـالمِ مثـال تـه راوسـتى شـي نـو بيـا ورتـه مثـالي حـواس وائـي او چـې عـالم شـهادت تـه راشـي نـو مـادي حـواس ورتـه وائـي خـو پـه دې وجـه چـې الـې ئـې مـادي وي، لکـه غوږونـه، سـترګې، پـوزۀ، د جسـم د لمـس حامسـه او داسـې کـه مثـال تـه وګـورې نـو کـه څۀ هـم مجـرد دي خـو بيـا يـې هـم د جسـم سـره تعلـق شـته لکـه متفکـر، حافظـه، واهمـه وغېـره چـې د انسـان سـره تعلـق لـري خـو پـه اصـل کښـې دا ټـول حـواس مجـرد عقلـي دي چـې د نـزول پـه سـبب ئـې د تفصـيلي علـم دپـاره مختلـف طرفونـه نيـولي دي او پـه دغـو کښـې د مثـالي حواسـو حېثيـت د بـرزخ دی چـې پـه عـالم ماديـت او عـالمِ عقـل کښـې د مينـځ موجوديـت لـري چـې د مـادي علـم خبـر عـالم عقـل او د عـالمِ عقـل خبـر عـالم ماديت ته ورکوي"(26).

حمـزه بابـا پـه هـم دغـه تنـاظر کښـې د خوبونـو پـه حقلـه پـه ذکـر شـوي مکتوب کښې وړاندې ليکي:

"وګـوره پـه خـوب کښـې انسـان الـوتى شـي وجـه ئـې دا ده چـې مـادي حـواس ئـې معطـل وي او پـه مثـالي حواسـو کښـې خپـل تجـرد پـاتې وي او د مجرداتـو الوتـل هـيڅ نـاممکن نـۀ دي. پـه ويښـه چـې د الوتلـو خيـال راشـي نـو نـاممکن ئـې ګڼـي لـېکن پـه خوب کښـې ئـې نـاممکن نـۀ ګڼـي او دې تـه وګـوره چـې حضـرت عمـرؓ خـوب وينـي چـې جبـه ئـې اغوسـتې ده نـو انحضـرتﷺ تعبيـر ورکـوي چـې خـدای بـه علـم درکـړي نـو فکـر وکـړه چـې د عقلـي حواسـو نـه چـې د علـم د ورکولـو پرتـو اول پـه مثـالي حواسـو پرېوتـو نـو يقينـاً بـه يـو مجـرد پرتـو ؤ. مثـالي حواسـو چـې د مثـال پـه حېـث جـوړ کـړو نـو يقينـاً بـه پـه

کښې څۀ نه څۀ ترکيب شامل شوی ۋ خو بيا هم تر ډېره حده مجرد ۋ خو چې مثالي حواسو هغه پرتو مادي حواسو ته ورکړو نو د حضرت عمر رضي الله عنه مادي حواسو د يوې جبې په شکل کښې مرتب کړو ځکه چې اکثر علماء جبې اغوندي"(27).

د حمزه بابا دا خبره ښخي درسته ده چې په خوب کښې انسان الوتی هم شي او دا ځکه چې مادي حواس ئې معطل وي، حمزه بابا چې د مثالي حواسو او تجريد کومه خبره کړې ده دا په اصل کښې واهمې ته اشاره ده ځکه چې واهمه په خپله د يو داسې نفسياتي کېفيت نوم دی چې د خارجي محرك ورته هيڅ ضرورت نۀ وي او د کوم مادي څيز او مادي حس د موجودګۍ او فعاليت بغير هم خپل تجريدي وجود ثابتولی شي او دغه يوه ځانګړې تجربه خو کېدی شي ولې اجتماعي تجربه هيڅ کله نۀ شي کېدی. ډاکټر سليم اختر په خپل کتاب کښې د خوبونو په حقله وړومبی د افلاطون نظريه پېش کوي او بيا وائي چې د افلاطون دغه نظريه د فرائيډ نظرئې سره ډېر نزدېکت لري. مونږ د ډاکټر سليم اختر د کتاب نه دې لړ کښې اقتباس ځکه پېش کوو چې د دواړو عالمانو نظرئيو سره د حمزه بابا نظريه هم تر څۀ حده نزدېکت لري. ډاکټر سليم اختر ليکي:

"جب روح کا وہ حصہ سو جاتا ہے جو عقلیت کا حامل ہونے کے ساتھ ساتھ ملائمت بھی رکھتا ہے اور جو غیر اخلاقی روح کا آقا بھی ہوتا ہے، ادھر روح کا وہ حصہ جو بہیمت اور وحشت سے عبارت ہے جو کھا پی کر اور تشنگی بجھا کر آسودہ ہو چکا ہوتا ہے، اسلئے وہ شادان و فرحان ہو کر نیند کو بھگا دیتا ہے اور اب وہ باہر آکر کھل کھلتا ہے اس حالت میں اس سے جو کچھ بھی ہو جائے وہ بعید نہ ہو گا کیونکہ اب اس پر شرم و حیا کا پہرہ نہیں اسلئے وہ بے باک اور انتشار پسند ہو جاتا ہے... افلاطون کے مکمل نظریہ خواب کے مطالعہ سے پتہ چلتا ہے کہ اس کا انداز فکر بالکل فرائیڈ ایسا ہے"(28).

د خوبونو په حقله د افلاطون او فرائيډ نظرياتو سره د حمزه بابا نظريه هم نزدېکت لري د دې په تائيد کښې مونږ د حمزه بابا د جنوري 1972ء د يو مکتوب حواله پېش کولی شو چې په دا ډول ده:

"په خوب کښې ظاهري حواس معطل وي ګني په خوب کښې هم هر يو انسان داسې شعور لرلی شي لکه چې په ويښه ئې لري نو احتلام به ئې ولې کېدو فوراً به ئې د دې کار نه انکار کړی وی او په ما داسې واقعات تېر شوي دي ځکه چې داسې زمانه په ما تېره شوې ده چې په خوب کښې

به راته جنسي عمل هدف را وړاندې شو نو فوراً به مې انکار وکړو او را ويښ به شوم البته د بي بي په تشکل به تېروتم"(29).

د افلاطون، فرائيډ او حمزه بابا د نظرئيو نه مونږ دا نتيجه اخذ کولی شو چې د خوب په حالت کښې يو موهوم څيز هم د حقيقي څيز بڼه اختيارولی شي او دا ځکه چې دې کښې د ادراك کوم عمل دخل نۀ وي او نۀ د کوم ظاهري حس په بنياد وجود مومي په نورو ټکو کښې مونږ دا وئيلی شو چې کله شعور په يو خاص حالت او کېفيت (خوب) کښې خپله وظيفه نۀ ترسره کوي او دغه څوکيدار په خپله په خوارۀ خوب اودۀ وي نو په داسې حال کښې ئې په لاشعور هم هغه حکمراني ختم شي کومه چې د دغه خاص کيفيت نه وړاندې وه. د شعور حکمراني چې هرکله ختم شي نو لاشعور ازاد شي او بيا هغه کارنامې ترسره کوي د کومو يادَونه چې په پورته حوالو کښې وشوه.

حمزه بابا د صوفياتو د خوبونو او د عامو انساني خوبونو په حقله ليکي:

"د خوب ذکر راغی نو ښۀ به دا وي چې په دې حقله څۀ ولیکم او هغه دا چې زمونږ په مشرب کښې مخلوق په خارج کښې موجود نۀ دی، يعني د حق تعالٰی د وجود محدوده نۀ ده چې خارج ئې متصور شي. او هم دغه شان داخل ئې هم ممکن نۀ دی. نو زمونږ مسلك دا دی چې مخلوق په علم کښې موجود دی. يعني د حق تعالٰی په علم کښې او دا حقيقت دی چې مخلوق زمونږ هم په علم کښې موجود دی او ثبوت ئې دا خوب دی کوم چې مونږ وينو او هغه دا چې کوم وخت مونږ خوب وينو نو هغه بېخي يو حقيقت او په خارج کښې ګڼو، مثلاً که يو کس په خوب کښې پېښور ښار ته لاړ شي نو هغه به ګوري چې پېښور په خپل موقعيت موجود دی او هرڅۀ چې ويني هغه به په خارج کښې محسوسوي او د خوب په دوران کښې که چرته غم خوشحالي راشي هغه به هم واقعي ګڼي خو چې کوم وخت را ويښ شي نو هيڅ به نۀ وي نو اوس سوال دا پيدا کېږي چې هغه د پېښور ښار چرته ؤ؟ معلومه ده چې د خوب ليدونکي په مثالي حواسو کښې ؤ. او هغه هيچرې دا شول محسوس کولی چې ګوندې هغه خوب ويني، نو معلومه شوه چې د بېدارۍ

په حال کښې هم چې مونږ دا کائنات محسوس کړو نو دا زمونږ په علم کښې دی نۀ په خارج کښې، او حديث شريف کښې هم راغلي دي چې: "دا خلق اودۀ دي چې کوم وخت مړۀ شي را ويښ به شي او چې ويښ شي نو بيا به هم په يو علم کښې وي. ما وئيلي ؤ:

د محتـــاج د عمـــل نيـــت پـــه خـــوب کښـــې خـــوب دی
لااودۀ دی کـــه ديـــو نـــه را بيـــدار شـــي"(30)

حمزه بابا په خپلو خطونو کښې د خوبونو نفسياتي تعبيرونه هم پېش کړي دي خصوصاً د خپل مريد ملك عبدالرحمان د ځنو خوبونو تعبير په حقله ليکي چې:

"د بائيسکل په پايه کښې ستا ښادر ځيرې کېدل او په هغه ستا خفګان په منطقي ډول خو واقعي د عدم اطمينان ثبوت دی خو په دې حېرانونکې لار کښې منطق او فلسفه قدم په قدم تيندکونه وهي اصل خبره دا ده چې ستا برزخ جوړ شوی دی او برزخ يو داسې شی دی چې د ائينې غوندې يو وېښتۀ هم پرې ښکاري .... او هغه دوه کاله قيد چې په خوب دې ليدلی ؤ امکان لري چې هم دا دوه کاله مجاهده وي چې د دې نه پس ځۀ نه ځۀ فراخي پيدا شي. په دې لار کښې د هر انسان خوبونه جدا جدا وي ځوك په کښې قيد شي ځوك په کښې پهانسۍ سزا مومي، ځوك ځۀ او ځوك ځۀ. ځومره چې د يو سالك نفس سرکش وي هغه شان په خوب کښې سزا هم سخته وي"(31).

په يو بل خط کښې د خوبونو د تعبير په حقله ليکي:

"خوبونه دواړه ښۀ دي اميد دی چې حج به دې خدای نصيب کړي. د حج نه مراد قدر حق هم کېدی شي او پاتې شوه هغه پړقېدونکې ټوپۍ نو دا خو زما هغه اخلاص دی چې تا سره ئې لرم ... د ټوپۍ نه مراد د خلافت او اجازت هم کېدی شي"(32).

حمزه بابا د نفسياتو په حقله په خپلو مکتوباتو کښې ډېر عالمانه بحثونه کړي دي چې په دغه مقاله کښې ئې مکمله احاطه ممکنه نۀ ده البته دې لړ کښې د موضوع سره متعلقه د يو څو نورو متفرقو مکتوباتو تجزيه وړاندې کولو باندې اکتفا کوم.

حمزه بابا په مختلفو خطونو کښې د احساس او حواسو په حقله خپل نظر وړاندې کړی دی د 13 جون 1971ء په یو مکتوب کښې د دماغ او حواسو په حقله لیکي:

"عقل په خپله د حواسو محتاج دی بغېر د حواسو د امداد نه هیڅ نۀ شي کولی"(33).

د حواسو د فعالیت په حقله د حمزه بابا دا خبره خو تر ډېره حده درسته ده خو دلته دا وئېل به هم بې ځایه نۀ وي چې په انساني وجود کښې دماغ یو مرکزي کردار ادا کوي او ټول حواس د دغه مرکزي کردار تابع وي او هرکله چې د حواسو رابطه د دغه ذکر شوي مرکزي کردار نه منقطع شي نو بیا حواس هم فعال نۀ شي پاتې کېدی په نورو ټکو کښې مونږ دا وئیلی شو چې د حواسو فعالیت د دماغ په وجه وي.

حمزه بابا د 13 اګست 1969ء په یو مکتوب کښې د ادراك او حافظې په حقله لیکي:

"تۀ خو پوهېږې چې کوم سړی ستا د عمر اشنا وي او هغه په یوه کمره کښې دننه د ډېرو خلقو په مېنځ کښې ناست وي خبرې کوي نو تۀ ئې په ټولو کښې اواز پېژنې وجه ئې څۀ وي؟ وجه ئې دا وي چې تۀ ورسره د ډېرې مودې د تعلق ساتلو په وجه اشنا شوی ئې او که چرې د بل یو سړي اواز ستا د هغۀ دوست د اواز په شان وي نو هم تۀ په کښې فرق کولی شې او پوهېږې چې دا ستا د هغه دوست اواز نۀ دی ځکه چې که د هغه بل سړي اواز هم ستا د دوست اواز ته ورته وي نو هغه طرز او ډول ئې په لهجه کښې پوره پوره نۀ وي کوم چې ستا د دوست په لهجه کښې وي"(34).

په پورتني اقتباس کښې حمزه بابا په ساده ټکو کښې د ادراك وضاحت کړی دی او دې لړ کښې ئې په ګڼو اوازونو کښې د یو مخصوص اواز د پېژندنې مثال ورکړی دی اواز چونکې یو تجریدي څیز دی چې د سمعې حس په مرسته ئې مونږ هله پېژندی شو چې د ادراك قوت ورسره ملګری شي ځکه چې ادراك مونږ د یو څیز په معنٰی او مفهوم پوهوي دغه عمل چې پرله پسې جاري پاتې شي نو په حافظه کښې محفوظ شي او بیا د هم دغه حافظې په مرسته په ګڼو اوازونو کښې د دغه مخصوص اواز

پېژندل ګران نۀ وي د کومې يادَونه چې حمزه بابا کړې ده.په يو بل مکتوب کښې د ادراك اهميت په دې ټکو واضح کوي:

"د خپلې انا ادراك هم ځکه کېږي چې د ذات مختلف مضمرات د خپلې موجودګئ يا د خپل اضافيت او نسبت تکل کوي لکه د تخم دانه ځکه وده کوي چې د هغې په ذات کښې مضمرات دي او د هغې وده کول د هغې دا شعور دی چې وده کول په کار دي. دا مضمون لږ ګران غونډې دی خو په لږ فکر په پوهه کښې راتلی شي مثلاً انسان به واخلو په انسان کښې علم، قدرت، پوهه، غم، خوشحالي، حرکت او داسې نور صفات موجود دي فرض کړه که دا هيڅ په کښې نۀ وی نو هغۀ به د خپلې هستئ ادراك کړی وی؟ هيچرې نه ځکه چې د خپلې هستئ ادراك کول هم يو صفت دی نو چې د ادراك صفت ئې نۀ وي نو د خپلې هستئ د ادراك کولو تحريك به له کومه پيدا کېږي"(35).

حمزه بابا د مختلفو مثالونو په ذريعه د ادراك وسعت په ګوته کړی دی په اصل کښې ادراك د يو داسې قوت نوم دی چې د انسان په داخلي نظام مکمل طور خور دی او د دې اندازه مونږ هله لګولی شو چې کله مونږ د مختلفو حسونو يعني سامعه، باصره، شامه او لامسه وغيره په ذريعه يو څۀ محسوس کړو نو په داسې حال کښې ادراك د مختلفو تلازمو په مرسته د ذکر شوي څيز په حقله نور معلومات هم رامخې ته کوي هم دغه وجه ده چې حمزه بابا په خپلو ګڼو مکتوباتو کښې د ادراك په حقله بحثونه کړي دي او د دې رشته ئې د خپلې وجودي نظرئې سره تړلې ده.

حمزه بابا د کثرت نه وحدت په لور چې سفر کوي نو خپله تصوفي او وجداني تجربه د مسمريزم يا هپناټزم سره اړه لرونکې د دغه لاندينې مثال په مرسته بيانوي:

"د مسمريزم عامل کوم وخت يوې نقطې ته مسلسل ګوري او سترګې نۀ ځمبوي نو يو داسې وخت راشي چې هغه نکته غائبه شي د دې څۀ وجه ده؟ وجه ئې دا ده چې نظر ته ئې يکسوئي حاصله شي د هغۀ نظريه وحدت قائم شي نو بيا هغه نقطه ورکه شي نو ځکه چې مونږ د اشياوو احساس کوو وجه ئې دا ده چې زمونږ نظر بې قراره دی او يکسو نۀ دی د بې قرارئ وجه ئې د

انائی اکبر نه جدائي ده او کوم کثرت چې مونږ محسوس کوو دا هغه اضافات دي په کومو کښې چې مونږ را ګېر یو"(36).

د پورتني اقتباس نه معلومیږي چې حمزه بابا که یو خوا د نفسیاتو په مبادیاتو مکمل خبر دی نو بل هغه چې کله خپله تصوفي او وجداني تجربه (چې د الفاظو په لومه کښې راګېرول ئې ممکن نۀ دي) بیانول غواړي نو بیا د نفسیاتي اصطلاحاتو نه کار اخلي او د هپناټزم د مثال په مرسته دا ګرانه مرحله په اسانه ټکو کښې لوستونکو ته وړاندې کړي.

د دغه خور وور بحث نه مونږ دې نتیجې ته را رسو چې حمزه بابا د تصوف د لارې لاروی خو ؤ خو هرکله چې د صوفیانه مجاهدو تعلق د نفسیاتي حقیقتونو سره دی نو ځکه هغه د صوفیانه مباحثو په لړ کښې د نفسیاتو په حقله هم ځای په ځای خبرې کړې دي او بیا په خصوصي توګه ملك عبدالرحمان چې د حمزه بابا د صوفیانه سلسلې مرید هم ؤ نو د هغوئ په نوم لیکلی شوو خپلو خطونو کښې ئې ډېر په ازادۍ سره د نفسیاتي کېفیتونو وضاحت هم کړی دی او په دې لړ کښې ئې د نفس او نفسیاتو، روح او جبلت، شعور او لاشعور خوبونو او نورو نفسیاتي اصطلاحاتو جائزۀ په داسې انداز اخستې ده چې حمزه بابا مونږ ته د یو ځیرك نفسیات دان په حېث را مخې ته کوي او دغسې مونږ ته د هغۀ د خطونو یعنې مکتوباتِ حمزه بابا په ذریعه د هغۀ نفسیاتي روئې په ډېر ځرګند ډول را وړاندې کېږي.

***

# حوالې

(1) شنواری، امیر حمزه، مکتوباتِ حمزه بابا، (مؤلفه ملك عبدالرحمان) حمزه اکېډمي پېښور، 1997، ص190.

(2) اختر، سلیم، ڈاکٹر، نفسیاتی تنقید، مجلس ترقی اردو، طبع دوم، جنوری 2007ء ص294 تا296.

(3) اختر، سلیم، ڈاکٹر، تنقیدی دبستان، سنگ میل پبلی کیشنز لاہور، 1997، ص160، 161.

(4) شنواري، امیر حمزه، مکتوباتِ حمزه بابا، ص38.

(5) ایضاً، ص38.

(6) اختر، سلیم، ڈاکٹر، نفسیاتی تنقید، ص25، 26.

(7) شنواري، امیر حمزه، مکتوباتِ حمزه بابا، مقدمه، (د طاهر چشتي نظامي نیازي) مشموله، مکتوبات حمزه بابا، ص49، 50.

(8) القران، سورة القیامه، ایت 2، پاره 29)

(9) القران، سورة القیامه، پاره 29، ایت 2، تفسیر حکیم الامت مولانا اشرف علي تهانوي.

(10) شینواري، امیر حمزه، مکتوباتِ حمزه بابا، ص269، 270.

(11) ایضاً، مخ420.

(12) ایضاً، مخ 249.

(13) ایضاً، مخ 649.

(14) ایضاً، مخ396، 397.

(15) ایضاً، مخ398.

(16) ایضاً، مخ791.

(17) ایضاً، مخ415.

(18) حسین، کرامت، ایجو کیشنل پبلشرز اردو بازار لاہور، س ن، ص77 تا79.

(19) شینواری، امیر حمزه، مکتوباتِ حمزه بابا، ص549.

(20) ایضاً، ص496، 497.

(21) ایضاً، ص497، 498.

(22) ایضاً، ص493.

(23) ایضاً، ص328.
(24) ایضاً، ص 250.
(25) ایضاً، ص649، 650.
(26) ایضاً، ص265.
(27) ایضاً، ص265، 266.
(28) اختر، سلیم، ڈاکٹر، تین بڑے نفسیات دان، سنگ میل پبلی کیشنز لاہور، 2006، ص91 ت، 92.
(29) شینواری، امیر حمزه، مکتوبات حمزه بابا، ص589، 590.
(30) ایضاً، ص378، 379.
(31) ایضاً، ص254، 255.
(32) ایضاً، ص164.
(33) ایضاً، ص450.
(34) ایضاً، ص129.
(35) ایضاً، ص172.
(36) ایضاً، ص698